نظرمحمد مطمئن ۲۰۲۴/۰۳/۲۲

# زما يو سم تحليل چي غلط؛ بل غلط تحليل چې سم ثابت شول

**لومړی: سم تحليل چي غلط ثابت شو:**
جمهوريت لا سقوط نه و کړی، پاکستان کي ميشت افغان کډوالو ته مي ويل که طالبان کابل ونيسي او امنيت راشي، د افغانستان ښه امنيت به پاکستان باندي هم مثبت تاثير ولري، پاکستان کي به اقتصادي او تجارتي حالت ښه لوري ته ولاړ شي، ډيری افغان او پاکستاني سوداګر به اسلام اباد کي پانګوني ته زړه ښه کړي، او که خدای مه کړه د جمهوريت له سقوط وروسته افغانستان کي ناامني زياته شي بيا به يي هم پاکستان کي مثبت تاثير څکه وي چي د افغانستان د ناامني له کبله به د پاکستاني سوداګرو سربيره، ډيری افغان سوداګر پاکستان کي سوداګري او پانګونی ته زړه ښه کړي، د پاکستان اقتصادي وضعيت او د څمکو کاروبار به ښه رونق ومومي.
زما پورته تحليل غلط ثابت شو، افغانستان کي الحمدلله بشپړ امنيت راغی، په لومړيو وختو کي ډيری افغان سوداګر له بهر نه بيرته افغانستان ته راغلل، مګر پاکستان کي ناامني زياته شوه، اقتصادي رکود مخ په زياتيدو، تر دي چي پاکستان ته په سيمه کي چا قرض هم ورنکړ، نړيوال بانک درانه او ځيني غير مذهبي شرطونه پري کيښودل، د پي آی ای هوايي شرکت به خرڅول کيږي او ځيني ملکي هوايي ډګرونه به هم خصوصي شرکتو ته په اجاره ورکول کيږي.
پاکستان کي د ناامنيو لړی د پوځ تر مرکزي قومنداني ورسيده، په بيلابيلو پوځي مرکزونو د وسلوالو لخوا بريدونه وشول، په سيمه کي د چين – پاکستان تر ټولو لويه پروژه سيپيک هم ودرول شوه، افغان سوداګرو د پاکستان پر ځای عرب او لويديځ هيوادو کي پانګونه وکړه، دارنګه ډيری پاکستاني سوداګرو هم له هيواده يي خپلي شتمنی بهر ته وايستلي.

**دويم: غلط تحليل چي سم ثابت شو:**
د جمهوريت د سقوط او اسلامي امارت لا ۹ مياشتي نه وي تيري شوی، د بيرغ مسئله، په کابل او شمال کي د ناامنيو مسايل، کابل او ځيني ښارونو کي د ځوانانو او ميرمنو لخوا لاريونونه، بهر ته وتليو افغان ځوانانو لخوا په اوسني نظام پسي منفي تبليغات، اوازي چي پخواني پاتي نظامي کسان په نښه کيږي او ځيني نور مسايل.
يوه ورځ مي يو لوړپوړي چارواکي ته وويل:" که غواړئ چي افغانان د ځينو پيښو اړوند متحد پاتي شي او که کله هم د افغانانو ترمنځ کومي کړی / هيوادونه شر ته لمن وهي، نو په کار ده چي د ولس د راټوليدو او د متحد کيدو لپاره داسي نقطه وي چي ولس ټول خپلمنځي اختلافات شاته وغورځوي او په يوه خوله د مشترکي داعيې/ ټکي لپاره راټول شي، که هر کله ناامني يا ګډوډي زياتيږي له همدی مشترکي داعيې به نظام کار اخلي، هغه دا چي موږ بايد ځانته کوم دښمن هيواد پيدا کړو. "
ومي ويل: "ددي لپاره تر ټولو پاکستان ښه انتخاب او دښمن هيواد کيدای شي، خو داچي هلته ۴۰ کاله افغانانو د کډوالی ژوند تير کړی، همدارنګه په تيرو ۲۰ کلونو کي د ډيورنډ هغي غاړي ته ډيری طالب مشران پاتي شوی، بل داچي پاکستان له تيرو ۴۰ کلونو راهيسي افغان ځوانانو او بيلابيلو قشرونو کي نفوذ څغلولی، ماته ممکن نه ښکاري چي د ځان لپاره پاکستان دښمن هيواد؛ افغان ولس او نورو ته په ګوته کړو، مګر بيا هم تر ټولو ښه انتخاب همدا دی، خو د بيلابيلو دليلو له امله چي "دلته يي ذکر کول مناسب نه ګنم" موږ نه شو کولای چي پاکستان سره دا ډول لوبه وکړو، پاتي ايران او تاجکستان دی، په دي اړه چي غور وشي."
همهغه سخت انتخاب چي اوسني نظام او مشرانو يي نه شوای کولای او يا يي نه غوښت، هغه خپله پاکستان اختيار کړ، لومړی يي د پاکستاني ولس پر اذهانو کار وکړ چي افغانستان يي دښمن دی، تر دي چي د پاکستان د علماوو غونډه کي د پاکستان د پوځ مشر هڅه وکړه چي د پاکستاني مدرسو طالبان او استادان يي هم ملګري کړي، د پاکستان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لنډمهالي ملکي حکومت او د پوځ جنرالانو يې همدا ذهنيت او د پاکستان تګلاره يې افغان ولس او نړۍ ته ورسوله چې افغان حکومت او پاکستان حکومت يو بل ته د د ښمن په سترګه ګوري، زما هغه تحليل چې ناممکن مې باله، غلط ثابت شو او پاکستان هغه هرڅه پخپله وکړل چې ګټه يې به يې په نړدي او ليري راتلونکي کې افغان لوري ته ځي ان شاء الله.

اوسنی کړکيچن حالت نه د افغانستان او نه هم د پاکستان په ګټه دی، که پاکستان دوام ورکوي نو زيان به يې هم دوی ويني ان شاء الله.

افغانستان کې د پاکستان د طالبانو تحريک د مشرانو او غړو شتون يوازي بهانه ده چې د پاکستان پوځ لخوا کارول کيږي، د اسلامي امارت له راتګ وروسته افغان حکومت ډيره هڅه وکړه چې د پاکستان او ټي ټي پي ترمنځ ستونزه حل شي، مګر د پاکستان لخوا شرايط هغسي وو لکه چې پر افغانستان د امريکا د يرغل په لومړيو وختو کې د امريکا او حامد کرزي د حکومت وو، دا چې د پاکستاني طالبانو ټول مشران او نوموتي جنګيالي به پرته له قيد او شرط پاکستان ته ژوندي سپارل کيږي، يا به د پاکستان د پوځ لخوا زنداني کيږي او يا به وژل کيږي، بله هيڅ لاره پاکستان ونه منله، حتی پاکستاني جنرالانو په وزيرستان او پخوانيو ازادو د قبايلو ايجنيسو کې د پاکستاني طالبانو ژوند کولو او يا هم افغانستان کې د امن اوسيدو لپاره هم زړه ښه نه کړ.

که پاکستان په خپله پوځي او ملکي تګلارو کې د افغانستان اړوند ژور بدلون را نه ولي، وخت په وخت به ټي ټي پي نور هم ځواکمن او بلوچ بيلتون پال به هم په سېمه کې خوندي ځايونه بالاخره ومومي.

که پاکستان د چين او امريکا د جګړې ډګر ځان ګرځوي، د امريکايي ګټو او له امريکا څخه د ډالرو ترلاسه کولو مقابل کې په افغانستان او له دي لاري منځنۍ اسيا او د چين سينکيانګ کې ناامني ته لاره هواروي/ هڅې کوي، د داسي ناوړه پروژې زيان به پرته له پاکستان بل چاته ډير نه وي.

وروستۍ خبره داده چې موږ افغانان زغم لرو، حوصله لرو، ليري او نږدي ګورو، له خپلو ټولو ګاونډيو سره ښې اړيکې او مقابل احترام ته درناوی لرو، په سېمه کې ناامني د سيمې د ټولو هيوادو په زيان ګڼو، د يوبل ضد څرګندونې او تورونه د هيڅ هيواد په ګټه نه بولو.

آرشيف: مطالب نظرمحمد مطمئن



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ